مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۶/۰۲/۰۶

# زه غواړم بټۍ کې کار وکړم

کلونه وړاندې یو فکر راغی. غوښتل مې د فلسفیانو اکتونه وکړم او د پیغام رسولو یوه غیر عادي لاره وکاروم:

یوه ورځ مې ماشومان د خښتو بټۍ ته بوتلل. ما ویل چې خپله وګوري چې چا تعلیم نه وي کړی، نو څومره سخت ژوند تېروي.

د بټۍ کارکوونکیو ته مې ښناک او میوه هم واخیسته.

سترو او تودوخې سپړلو کارکرو، زما د ماشومانو ډېر قدر وکړ. کچالو یې ورته انګار کې پاخه کړل.

چې بیرته راتللو، نو ځان راته خپل پلان کې بریالی ښکارېده.

شاته سیټ ته مې مخ واړو:

ما ویل: اوس خو به سبقونه زده کوئ، کنه؟

چې لخیره ځوانان شوئ، غواړئ څه درنه جوړ شي؟

په عکس کې دا په تعظیم ولاړ، راته ویل:

زه غواړم بټۍ کې کار وکړم!





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ